**Kuhandazh Natural Sciences and Social Sciences**

**Volume (13), Issue 1, 1405 (2026 )**



# Emotional value in poetry

**Abdul Majeed Pardes[1*] Zahidullah abid[1]**

1- Department of Pashtu language and literature Faculty of education, Kunduz University

*Corresponding Author **Email:** abdulamajidpardes 40gmail.com **Tell:** 0780279009

## Article Info / Abstract

Pp: 29-43

Article Type: Review Article

History:

Received: 1405/1/10

Accepted: 1405/2/10

Published online: 1405/3/28

**Keywords:** emotion, emotional objectivity, transference, thought and emotion

This article clearly explains and explores the place, significance, and role of emotion as a poetic element through the interpretation of selected poetic examples. The study highlights the importance of emotional values in both human life and the world of poetry and literature. To a considerable extent, it contributes to resolving the theoretical problem of understanding the emotional dimension of poetry. It also analyzes and explains the various forms and aspects of emotion in Pashto poetry. The primary objective of this research is to examine and identify the values of emotion in poetry, while also demonstrating the benefits and effects of emotional poetry through the analysis of poetic examples. The study employs a descriptive-analytical approach and is based on library research. Using the descriptive research method, it draws on a wide range of theoretical and creative literary works. Based on the research questions, the study concludes that, alongside other poetic elements, emotion occupies a unique and indispensable place in poetry and cannot be overlooked in the process of literary criticism.

Copyright 1405 Authors. Published by: Kunduz University.
Website: https://www.kundoz.edu.af/

**Kuhandazh Natural Sciences and Social Sciences**

**Volume (13), Issue 1, 1405 (2026)**

# په شعر کې د عاطفي ارزښت

**پوهندوی عبدالمجید پردېس[1]* پوهنمل ذاهدالله عابد[1]**

۱. کندوز پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه

**ایمیل نویسنده مسؤل:** : abdulamajidpardes 40gmail.com **، تلیفون:** ۰۷۸۰۲۷۹۰۰۹

**تاریخچه / نچوړ**

ص ص: ۲۹-۴۳
نوع مقاله: مروری
تاریخ دریافت: ۱۴۰۵/۱/۱۰
تاریخ پذیرش: ۱۴۰۵/۲/۱۰
تاریخ انتشار: ۱۴۰۵/۳/۲۸
**واژه های کلیدی:** عاطفه، د عواطفو هدف، رښتینولي، لېږد، فکر او عاطفه.

په یاده مقاله کې د شعري رکن ځای، ارزښت اونقش د شعري بېلګو په تفسیرولو سره ښه روښانه و سپړل شوی. دې څېړنه کې په انساني ژوند او د شعر و ادب په نړۍ کې عاطفي ارزښتونه څرګند شوي دا څېړنه تر ډېره بریده د شعرپوهنې د تیورۍ د عاطفي عنصر د پېژندنې ستونزه حل کوي. په پښتو شاعرۍ کې د عاطفي بېلابېل ډولونه او خواوې تحلیل او سپړل شوي دي.د دې څېړنې موخه په شعر کې د عاطفي ارزښتونه څېړل او موندل دي او ترڅنګ یې د عاطفي شاعرۍ ګټې او اغېزې بیانول او شعري بېلګې سپړل دي ؟یا ده څېړنه توصیفي تحلیلي ده او ډول یې کتابتوني دی چې له تشریحي څېړندود څخه په ګټنې له بېلابېلو تیوریکي او تخلیقي ادبي آثارو نه کار اخستل شوی .د څېړنې پوښتنوته په پام سره دې پایلې ته ورسېږو چې د شعر د نورو توکو ترڅنګ عاطفه هم خپل ځانګړی ځای او ارزښت لري او د شعر د کره کتنې پر مهال ترې سترګې نه شي پټېدلای.

حق نشر نویسندگان. ۱۴۰۵ . منتشرشده توسط. پوهنتون کندز.
وب سایت: https://www.kundoz.edu.af/

**سریزه**

(په شعر کې د عاطفې ارزښت) تر سرلیک لاندې دې څېړنیزه مقاله کې په شعر کې د عاطفې پر بېلابېلو اړخونو، ډولونو او ارزښت باندې څېړنه او شننه شوې ده. په دې څېړنې کې دوې ټاکل شوې موخې: عاطفه د انساني ټولنې په فردي او ټولنیز ژوند کې ځانګړی ځای او ارزښت لري. عاطفه ده چې ژوند ماناوال او رښتینی کوي. د موجوداتو او کائناتو په قدر او بشري خواخوږۍ مو پوهوي. عاطفه د انسان په نفس کې هغه داخلي ځواک یا قوه ده چې د انسانانو نفسونه او ذهن اغېزمنوي.

له عاطفې څخه موخه د غم، خوشحالۍ، مایوسۍ، هیلې، غوسې، حیرانۍ او همداسې نور هغه حالتونه دي چې د شاعر په ذهن کې د عینې یا ذهني پېښو په پایله کې پیدا کېږي او شاعر له یوې ذهني پېښې سره مخ کوي.

عاطفه د شعر مهم توکی دی چې د شعر د شننې او کره کتنې په وخت کې ترې سترګې نه شو پټولای.

په دې مقاله کې لومړی پر عاطفې خبرې شوې دي، ورپسې د عواطفو هدف، تکلفي بې عاطفې او عاطفي شاعري مقایسه او روښانه شوې ده. د احساس او عاطفې توپیر تشریح شوی. د عواطفو پر رښتینولۍ باندې بحث شوی، لکه څنګه چې شاعر د ټولنې ترجمان ګڼل شوی، نو په شعر کې عاطفه هم د شاعر د زړه غږ دی، دا غږ باید د رښتینو عواطفو سرچینه وي. د ښکلا او عواطفو نږدېوالی هم په بېلګو کې تشریح شوی دی.

د انسان ذهن دوه برخې لري، د ذهن د یوې برخې کار له عقل او منطق، او د بلې یې له عواطفو سره وي. د لومړۍ برخې له فعالیته علم او د دویمې برخې له فعالیته هنر زېږي. دغه د فکر او عاطفې برخه له ځینو شعري بېلګو سره روښانه شوې ده.

د مقالې په وروستۍ برخه کې د پښتو ژبې د معاصرې دورې د څو تنو شاعرانو: حمزه شینواري، محمد صدیق پسرلي، اسحاق ننګیال او اکرام الدین مفتون په شعرونو کې د بېلګې په ډول بېلابېل عاطفي اندونه او انځورونه څېړل شوي دي.

مقاله د پایلې، مناقشې او پای پایلې په لړلو سره تر ډېره بریده د کره منابعو نه په ګټنې، د مقالې لیکنې د منلو څېړنیزو اصولو او لیکنیزو کالبونو په پام کې نیولو سره بشپړه شوې ده.

هېڅ یوه څېړنه او لیکنه بې ارزښته او بې ګټې نه وي او د هرې لیکنې ارزښت یې په خپل موجوده متن کې نغښتی وي. لومړی لیکواله پورې ده چې د یوې څېړنیزې لیکنې موخه او ارزښت څنګه درک او پېژندلی شي، دویم په لوستونکو پورې ده چې په لیکنه کې څومره ارزښتونه درک او پېژندلی شي. د دې لیکنې ارزښت په لاندې ډول رالنډولی شو.

ـ په شعر کې د عاطفې ارزښت ، نقش او ګټې څېړل شوې.

ـ د لوستونکو او شعر څېړونکو لپاره يې ګټه داده چې د شعر او عاطفې سره تړلي اړخونه ورته سروښانه شوي.

ـ په پښتو شاعرۍ کې د عاطفې بېلابېل ډولونه او خواوې تحليل او سپړل شوي دي.

دا څېړنه د لاندينيو بنسټيزو او فرعي موخو په پام کې نيولو او ټاکلو له مخې ترسره کېږي.

**الف**: اصلي موخه

ـ په شعر کې د عاطفې ارزښتونه څېړل او موندل.

**ب**: فرعي موخې

ـ د عاطفې پېژندل؛

ـ په شعر کې د عاطفي شاعرۍ ګټې او اغېزې بيانول؛

ـ په پښتو شاعرۍ کې د عاطفې د ډولونو او بېلګو موندل.

**الف**: اصلي پوښتنه

۱ـ په شعر کې عاطفه څومره او څه ارزښت لري؟

**ب**: فرعي پوښتنې

۱ ـ په شعر کې عاطفې ته څومره پام شوی دی؟

۲ ـ د نورو شعري ارکانو په پرتله عاطفه څومره موهيمه ده؟

۳ ـ په پښتو شاعرۍ کې د عاطفې ارزښتونه او ډولونه څومره پالل شوي او راوړل شوي دي

هېڅ يوه څېړنيزه موضوع او ليکنه په خپل سر او يوازې ځان نه ده بشپړه شوې، يا به يې په اړه څه معلومات موجود وي او يا به يې په ټولنه کې کوم ځرک جوت وي. همدغه لومړي مواد او موارد دي چې موږ ته د لا زياتوڅېړنو او پلټنو موکه په لاس راکوي، ترڅو يې کره او پوره کړو.

په شعر کې د عاطفې ارزښت په اړه ز موږ اديبانو ځينې څېړنې او شننې ترسره کړي دي چې فعاليتونه يې د ستاينې او ګټې اخيستنې وړ دي.

استاد ازمون په خپلو آثارو نظم پوهنې، شعر پوهنې او د تخيل سمندر کې په شعر کې د عاطفې د نقش په اړه د پام وړ بحثونه کړي دي او ويلي يې دي: په شعر کې چې عاطفه نه وي، يوازې خيالي تصويرونه او وچ فکرونه هم شعر، شعر کولای نه شي ، عاطفه د تخيل او تصور په پارونه کې ځانګړې ونده لري. احسان الله درمل د شعر د نورو ارکانو ترڅنګ عاطفه ښه څېړلې ده. دی وايي: که عاطفه ملکه وي او فکر د دې نازولې ملکې مرستندوی ساتونکی وي، نو د شعر د ژوند او پايښت چانس ډېر دی.

عاطفه له هنري او شعري عناصرو لکه: ښکلا او عواطف، احساس او عاطفه، د عواطفو رښتينولي، د عواطفو لېږد، فکر او عاطفه او له همداسې ځينو نورو هنري او ادبي عناصرو سره په هنري تار تړلې

ده. د دې څېړنې ارزښت او نوی والی او توپیر له نورو اړوندو څېړنو سره په دې کې دی چې په شعر کې د عاطفې موضوع پکې په پرلپسې او منظم ډول د پورتنیو فرعي سرلیکونو په تشریح کولو سره بشپړه څېړل شوې ده.

مخکې له دې نه چې د شعر د عاطفي ارزښت په بېلابېلو خواوو باندې رڼا واچوو، لومړی به د شعر او عاطفې په اړه ځینې تعریفونه او تعبیرونه وړاندې کړو.

شعر: شعر په آهنګینې ژبې سره د مفکورې او تخیل عاطفي ترکیب څرګندوي. یا د آهنګ والو عبارتونو په واسطه د واقعیت تخیلي او بیاځلې انځورول، په عامه توګه مخیل کلام یا ولوله پاروونکی کلام چې همغاړېتوب (هارموني هم آهنګي) ولري، هغه کلام چې هنري ښکلا ولري. مرتب کلام چې همغاړېتوب ولري (بېلابېل لیکوالان،۲۰۱۲: ۲۱۰).

عاطفه: عاطفه مؤنث ښځینه نوم دی، مهرباني، زړه سوي، د خپلوۍ او قرابت مهر (زاهد، ۱۳۸۵: ۶۸۷).

عاطفه د انسان په نفس کې هغه داخلي ځواک یا قوه ده چې د انسانانو نفسونه، ذهن اغېزمنوي؛ مګر دا هم باید ووایو چې ټول هغه څیزونه چې په نفس اغېزه کوي، حقیقي نه شو ګڼلای. په دې خاطر چې ځینې شاعران او خطیبان چې عمومي هیلې او غوښتنې ورمعلومې وي، د عوامو په شعور لوبې کوي. د ځینو کلمو کارونه لکه: طبعیت، کلیت قومي لوړتیا او د داسې نورو کلمو په راوړلو سره احساسات د مؤقت وخت لپاره اغېزمن کوي. که چېرې د وخت هیلې بدلې شي، بیا هغه کلام یا وینا هېڅ ارزښت نه لري، اغېز او باور له لاسه ورکوي. دغه عواطف چې پیاوړی بنسټ ونه لري، د بلیغ شعري کلام ځانګړنې به ونه لري (رفیق، ۱۳۹۰: ۱۰۱).

له عاطفې څخه موخه د غم، خوشحالی، مایوسی، هیلې، غوسې، حیرانی او ... هغه نور حالتونه دي چې د شاعر په ذهن کې د عینې یا ذهني پېښو په پایله کې پیدا کېږي او شاعر له یوې ذهني پېښې سره مخ کوي. عاطفه د شعر مهم توکی دی چې د شعر د کره کتنې په وخت کې ترې سترګې نه شو پټولای (تقي پور، ۱۳۹۰: ۸۲).

موري وایي: «ستر شاعر د ژوند په باره کې د نتایجو د لاس ته راوړلو دپاره هڅه نه کوي؛ بلکې په هغه کې یو کیفیت تشخیصوي. د ده عواطف چې په یوه بل کې یې تداخل کړی دی، ورو ـ ورو په ده کې یو عادت رامنځته کوي، زما په پوهه دا د شاعر د تجربي اسلوب یو عاطفي بنسټ دی. شعر که ښکلی وي، یا هیجان پاروونکی، تصویر درلودونکی، په هر صورت له احساساتو او عواطفو سره اړه لري (روهي، ۱۳۸۹: ۴۵).

په انسان کې اند، تخیل، عاطفه او پینځه ګوني حواس یو له بل سره د اروایي پلونو په واسطه اړیکې لري. هر کله چې انسان د حواسو په وسیله یو څه درک کړي، نو لومړی یې احساساتو

او عواطفو ته سپاري. هر کله چې ځینې دغه اخستنې د خیال په کوځه تېروي او اند یې بیا د یوې لنډې، آهنگینې او خوږې ژبې (او کله کله د ځو ښکلو کلمو) په جامه کې بیان کړي، نو همدلته ده چې (شعر) منځ ته راځي. له عواطفو او بیا وروسته د تخییل دغه اخیستنې له ژبې پرته د نورو استعدادونو او ځواکونو په مرسته وکاروي، لکه موسیقي، تمثیل، نڅا، نقاشي، مجسمه جوړونه او نور هنرونه، دلته په مجموع کې له هنر سره سروکار پیدا کوي (لېوال، ۱۳۷۹: ۹۱).

د شعر اصلي توکي څلور څیزه ښودل شوي دي چې هغه مفکوره، عاطفه او خیال دی. یو له دغو اساسي توکو څخه عاطفه ده. عاطفه یوازې غمگین حالت او زړه سوی نه دی. یا په بله وینا عاطفه یوازې دا نه ده چې د یو شاعر زړه دې پر چا درد وکړي او پر حالت دې یې غمجن شي؛ بلکې د انسان د ذهن ټول طبیعي غبرگونونه لکه غم، ښادي، یأس، غوسه، حیراني، وېره او ... عاطفه بلل کېږي (باجوړی، ۱۳۸۹: ۲۲).

په شعر کې عاطفه مهمه او اړینه برخه ده. داسې نه ده چې شعرونه له عاطفې پرته نه ویل کېږي، که وویل شي هم، خو د لوستونکو زړه ته نه ښکته کېږي.

ادبپوهانو عاطفه په درې ډولونو وېشلې: لومړی یې شخصي ده چې په دې ډول عاطفه کې شاعر خپله شخصي عاطفه څرگندوي. دویم ډول یې ټولنیزه عاطفه ده چې په دې عاطفه کې شاعر له خپلې شخصي عاطفې بهر د ټولنې عاطفه ښکاره کوي. درېیم ډول یې انساني یا بشري عاطفه ده چې شاعر په دې ډول عاطفه کې د ټولو انسانانو ژوند او کړنې په پام کې نیولې وي او د ذهن عکس العمل ته یې راوستلې وي (یون، ۱۴۰۲: ۲٦۹).

**د څېړنې میتود**

یا ده څېړنه توصیفي تحلیلي ده او ډول یې کتابتوني دی چې له تشریحي څېړندود څخه په گټنې له بېلابېلو تیوریکي او تخلیقي ادبي آثارو نه کار اخستل شوی دی او د څېړنې معلومات او اطلاعات له منل شوو او معتبرو کتابونو او باوري سرچینو څخه راټول شوي دي، بیا تحلیل او کره کړل شوي. له اوسنیو مروجو منل شوو څېړندودونو څخه په استفادې سره یاده څېړنه بشپړه شوې ده.

**د عواطفو موخه**

د عاطفې هدف دا دی چې عاطفه یو حقیقي اساس ولري او د شاعر د زړه غږ وي، که یو شعر کې داسې نه وي، نو ساړه تشبیهات، پیکه توصیفونه او تکلفي مبالغې څه تاثیر نه لري او ذات ورځنې نفرت کوي، بلیغ او عالي ادب لکه کله چې ځینې کسان گومان کوي، په وهم او کذب کې نه دی؛ بلکې د عواطفو په هدف مبنی دی. که تاسې یو غزل راواخلئ چې شاعر په کې د زړه په شعور د جمال لوړو مدارجو ته رسېدلی وي او عاطفي صداقت پکې وي او له یو غزل سره یې مقایسه کړئ

چې په تکلف او تصنع جوړ شوی وي او له مبالغو نه ډک وي، رښتياني عواطف پکې نه وي او محض لفاظي وي، درته معلومه به شي چې د تاثير په لحاظ د ځمکې او آسمان هومره توپير لري.

د ځينو عروضي شاعرانو شعرونه چې د ادبي صنعتونو، تشبيهاتو او استعارو زور پکې ليده شي او له مبالغو نه ډک وي، هغو ملي سندرو قدر ته خوند او اغېز نه لري چې نا لوستو شاعرانو جوړې کړي او ډېرې ساده وي، ځکه چې په دې سندروکې يوه صادقانه مينه يو رښتيانی جوش او عواطف موجود وي، په زړونو اثر کوي (ازمون، ۱۳۹۷: ۱۷).

لکه دا پښتو لنډۍ: وطن زما دتن جامه ده دتن جامه به لکه گل غوندې ساتمه

**احساس او عاطفه**

د شعر په بنسټيزو توکو کې د شعر د کيفيت يو توکی احساس او عاطفه ده. احساس او عاطفه دوه هغه لفظونه دي چې يو له بله سره تړلي کارېږي، د احساس او عاطفې ترمنځ يوازې او يوازې لفظي توپير شوی دی، په ادب کې دغه دوه نومونه پرته له کوم توپيره کارول شوي.

شاعر يا اديب په پيل کې غواړي، د ادب په ژبه خپلو خلکو ته مفکوره ولېږدوي. د مفکورې د لېږد هدف د خپلو خلکو پرمختگ او زده‌کړه احساس دی، له دوی سره په بېلابېلو برخو کې خواخوږي ښودل عاطفه ده.

د شعر د رامنځته کېدو لامل احساس دی، خو په شعر کې دروني نفسياتي کيفيت او خواخوږي عاطفه ده. عاطفه علمي حرکت نه دی، احساس پر هنري او فني حرکت سربېره علمي حرکت هم دی (ازمون، ۱۴۰۲: ۱۳۰).

نه ښايي انسان ته چې د بل په غم غمجن نه شي
لويه بدبختي ده چې څوک نه ژاړي له چا ســره

له انسان سره چلند او اصولي حرکت يو مسؤليت دی، دغه مسؤليت احساس دی، له انسان سره خواخوږي ښودل بيا عاطفه ده.

د پورته بيت په لومړۍ مسره کې انسان غم او غمجنېدل احساس راپاروي، په دويمه مسره کې بيا له انسان سره خواخوږي له زړه سوی عاطفه راپاروي، نو عاطفه تر احساسه وروسته ځان راڅرگندوي (ازمون، ۱۴۰۲: ۱۳۲).

تراژيدي عاطفه زېږوي. عاطفه زياتره مهال په يوه خواشينوونکي او زړه سوانده حالت کې ځان راڅرگندوي، هغه څه چې زموږ د مهربانۍ، زړه سوي او خواخوږۍ حس راپاروي، عاطفه ده. عاطفه يا عواطف له مينې سره تحريک کېږي.

مينه هم د خواخوږۍ او زړه سوي عاطفه ده. له احساسه عاطفه راټوکيږي. ډېر زړه سوی او ژړا حس يا حواس راپاروي. د خوشحال بابا شعر دی:

د کابل مېوې خوراک وې د توتیانو
پرې خواره شول تور کارغان له هندوستانه

دلته د وطندوستۍ احساس څرګند شوی دی او شاعر دغه احساس د خپل وطن په مېوو کې حس کړی دی. د وطن له مېوو سره د هندوستان د کارغان بدچلن عاطفه زېږولې ده، یعنې د شاعر عاطفي اړخ یې راپارولی دی. عاطفه له زړه سره تړلې ده او احساس زیاتره مهال په دماغ او ذهن پورې اړه لري. عاطفه پټه وي، خو احساس بربنډ او پاروونکی وي (ازمون، ۱۴۰۲: ۱۳۳).

**د عواطفو او احساساتو ربښتینولي**

د عاطفې صدق دا دی چې عاطفه یو حقیقي اساس ولري او د شاعر د زړه غږ وي. هغه شعر پر زړونو ډېره اغېزه کوي چې له زړونو راوتلی وي. نو باید سړی زړه د شعر ماخذ وګڼي او له احساساتو او عواطفو، قلبي تمایلاتو او له ربښتیانیو جذباتو  پکې کار واخلي. په دې صورت کې نو تشبیه، استعارې، تخیل او تمثیل روح پیدا کوي او په ادبي صنعتونو کې یو حقیقي خوند پیدا کېږي؛ مګر که سړی په شعر کې یوازې ادبي فنون استخدام کړي او بې له کوم قلبي تأثره رنګین الفاظ پیدا کوي او نښلوي یې، نظم به جوړ شي، فن او صنعت به پکې وي؛ مګر د زړه د فتحه کولو او د عواطفو د تحریک قوت به پکې نه وي.

د عواطفو او احساساتو په نظر کې نیولو سره دوه ډوله شعرونه چې په یو ډول کې ربښتیاني عواطف وي او په بل کې نه وي، داسې مثال لري، لکه یو شاعر چې د خپلې محبوبې او خپل اولاد په مړینه کې مرثیه جوړه کړي او یو بل شاعر د کوم لوی او معتبر سړي په مړینه کې مرثیه ولیکي او کوښښ وکړي چې ډېر اوصاف ورپورې وتړي او ډېر شعري صفتونه پکې ځای کاندي؛ مګر هغه د زړه درد او ربښتیانۍ عاطفه چې په لومړۍ مرثیه کې وي، په دویمه کې به نه وي (هاشمي، ۱۳۹۲: ۹۱).

**په شعر کې عاطفي لېږد**

په شعر کې عاطفي لېږد (انتقال) دوه بېلابېل بهیرونه لري.

**الف) د عواطفو مستقیم لېږد**: په دغه لېږد کې شاعر په مکمل ډول یوه عاطفي پېښه انځوروي، یانې د شعر لوښی د یوې داسې واقعې لېږدونکی وي چې وکولای شي د لوستونکي احساسات او عواطف په ولولو راولي:

زما د زړه په هدیره کې له کلو ښخه
له جرړو وچه مینه
لکه زلموټی شهید
او ځوانه کونډه ناوې

او یوه اواره او بې وروره پېغله
او یوه بوره ابۍ
او یو بوډا او وېرځپلی بابا
او لکه په ژمي سپېدار چې لوڅ لغړ وي او تودوخه غواړي
له تا ګیلې لري او ډېرې ګیلې
وګورئ ټول سمبولونه د یو عاطفي انځور په رامنځته کولو کې یو بل ته لاس ورکوي. هنر د یو داسې احساساتي چاپېريال استازيتوب کوي چې کولای شو دغه شعر د ګیلو او احساساتو د عاطفي فوران لپاره یوه مکمله الګو وګڼو (لېوال، ۱۳۷٦: ۹۴).

**ب) د عواطفو غیرمستقیم لېږد:** د عواطفو او احساساتو د غیرمستقیمې ارايې لمن یو څه پراخه ده، يا يې که ووايو چې دغه ارايه تقريباً د شعر ټول ډولونه رانغاړي، ډېر به نه یو ښويېدلي.

دا په دې مانا لکه چې وايو: «شعر په لنډه او آهنګينه ژبه د اند او تخيل عاطفي تړون ته ويل کېږي.» نو ګورو چې د شعر هنري اډانه تر ډېره حده له عاطفې او احساس څخه رازېږي (لېوال، ۱۳۷٦: ۹۵).

ښکلا او عواطف: ښکلا د کايناتو د رنګونو، د غږونو هغه پټ سيوری او ښکالو ده چې لکه شهباز د زړه په رګونو ګوتې وهي، د کايناتو د رنګونو، د غږونو شور و ځوږ د پنځو حواسو له لارې ټول حسونه راژوندي کوي او د نني ښکالو له لارې يو پټ سيوری له وجوده راباسي. دغه سيوری او ښکالو په بېلابېلو عيني انځورونو کې د ژوند ساه پو کوي. ښکلا د ژوند ساه ده، هغه رنګيني ده چې د ژوند ټول حسونه په بېلابېلو رنګونو راڅرګندوي. ښکلا د انسان په عواطفو کې يو پټ ځوږ او شور دی چې له طبع يې څرګندېږي.

دې زما نظر ښکـلا درکې پيدا کړه
ګنې ته دومره ښکـلې چـرتـه وې
×××
ته يې که زما په سترګو وليدې
ډېر به درپسې شي لېوني ياره
×××
زما په سترګو ورته ګورئ
جانان ښايسته دی که رب زه لېونی کړمه

په دې شعرونو کې ښکلا د ليدونکي په سترګو کې څرګنده شوې ده. د طبيعت توکي د شاعر په سترګو او ليدو کې ښکلي ګڼل شوي دي. ښکلا د ظاهري او باطني حسونو يو ګډ عاطفي چلن او تجربه ده (ازمون، ۱۴۰۳: ۸۸).

ښکلا په هنري ادبي ليکنو کې د ليکوال په استعداد او فني مهارت او د تخيل په ځواک پورې اړه لري چې د انسان رواني حالات، عواطف او جذبات څنګه په الفاظو کې راونغاړي او مقابل لوري ته يې ولېږدوي او د هغه عواطف هم په خوځښت راولي.

ښکلا د طبيعت د پديدو، ټولنيز ژوندانه او بشري فعاليت هغو ځانګړنو ته وايي چې د انسان په روحي نړۍ کې يوه بې غرضانه مينه، خوښي او د خپلواکۍ احساس راپاروي چې د يوې مينې څخه تر زياتو هيجاني احساساتو پورې ټول عواطف پکې شامل وي.

اپلاتون، هيګل او کانت ښکلا معنوي او روحي ځانګړتيا ګڼي (هاشمي، ۱۳۹۲: ۴۹).

**فکر او عاطفه**

د انسان ذهن دوه برخې يا ښه ده ووايو دوه ډوله فعاليتونه لري، د ذهن د يوې برخې کار له عقل او منطق سره دی او د بلې يې له احساساتو او عواطفو سره. د ذهن د لومړۍ برخې له فعاليته علم او د دويمې برخې له فعاليته هنر زېږي. موږ چې په شعر کې فکر کوو، موخه مو له شاعره د رياضيکي او يا فلسفي فکري نظام غوښتنه نه وي؛ بلکې موخه مو دا وي چې د ژوند او طبيعت په اړه راسره خپل برداشت شريک کړي. بهرنۍ نړۍ د شاعر په ذهن کې د درک شوو پديدو اغېز ممکن دوه ډوله څرګند شي، لومړی دا چې شاعر له دې پديدو څخه خپل اخستل شوی تأثر بيانوي، معنا شاعر د خپلو ادراکاتو په اړه راسره يوازې خپله عاطفي شېبه شريکوي، خو دويم ډول اغېز دا دی چې شاعر د درک شوو پديدو په اړه راسره خپل نظر او برداشت هم شريک کړي. دا دويم اغېز په شعر کې د شاعر فکري برخه جوړوي، خو يوازې هغه مهال ارزښت لري چې له عاطفي سره يوځای بيان شي، ګنې وچ فکرونه او اخلاقي فرامين که په شعر کې بيان هم شي، شعر نه ترې جوړېږي (درمل، ۱۳۹۵: ۳۴۰).

موږ د شاعر فکر د ساينسي افکارو غوندې د صدق او کذب په تله نه تلو، د هغه د عاطفي برداشتونو په سترګو ورته ګورو چې د شعر له حسن او ارزښت سره مرسته کوي. شاعر او هر مفکر انسان د فزيک (طبيعت) او ميتافزيک (خدای) په دوه لارې کې درېيم ولاړ موجود دی چې د ده ټولنه پکې شامله ده او له بلې خوا تر طبيعت ورهاخوا يو نامرئي قوت احساسوي چې دواړه د ده پر فکر او عواطفو تاثير کوي، همدارنګه د ده خپل درون او روح هم يو درېيم جهان دی چې ورسره په اړيکه کې دی، د شاعرد فکر جزيره په همدې درې لويو دريابونو کې راايساره ده (درمل، ۱۳۹۵: ۳۴۱).

په شعر کې د فکر او عاطفې د توازن په اړه درې حالتونه موجود دي:
یو ـ کله کله په شعر کې فکر تر عاطفې پیاوړی وي او د عاطفې کښتي یې لاندې کړې وي. دا هله کېږي چې شاعر په ذهن کې له مخکې څخه یوه پیاوړې جوړه شوې مفکوره ولري او هغه یوازې د شعر په قالب کې واچوي (درمل، ۱۳۹۵: ۳۴۹).

پښتو د رومانوي او فکري شاعرۍ شهکارونه دي، د اخلاقو په اړه دا خبره مشهوره ده چې اخلاق کوم ټاکلی معیار نه لري؛ بلکې د ټولنیزو قراردادونو په پایله کې رامنځته کېږي. موږ چې څه ته اخلاق وایو، ممکن د ټولنې لپاره بد اخلاقي وي او برعکس. اوس د اشرف مفتون لاندې بیت ولولئ:

تصـور د نېـک و بـد د حـالاتـو فـیصـلې دي
عین ممکنه ده نېکي وي څه چې ستا په خیال ګناه ده

په دې بیت کې تر عاطفې فکر پیاوړی دی. دا بیت چې لولو، له شعر څخه تر وند اخستلو وړاندې په هغه راغلي فکر ته متوجې کېږو او له ځانه سره وایو: د شاعر خبره سمه یا ناسمه ده.
دوه ـ ځینې مهال د شعر په فضا عاطفه داسې حاکمه وي چې موندل پکې سخت شي. په لاندې بیتونو کې فکر د عاطفې تر څپو لاندې دی:

غـل د مـحبـت غـلـطـېـدای نـشـي
څوک چې په محفل کې چاته نه ګوري
(حمزه بابا)
بېلـتانه یم داسې حـال تـه رسـولی
یار د بل درومي او زه ورپسې ژاړم
(درویش درانی)

درې ـ ممکن کله کله فکر او عاطفه داسې سره ګډ وي چې یو له بله یې بېلول ناشوني وي چې ووایو: فکر پر عاطفې غالب دی او یا برعکس. د کروچه په نظر همدې ډول شاعرۍ ته ایډیاله شاعري وایي، په دې شاعرۍ کې شاعر ته فکر تر عاطفې او انفعالي حالت وروسته ورپیدا شوی وي او په دې توګه فکر او عاطفه لکه د سکې دوه مخونه د شعر په ارزښت کې خپل نقش ادا کوي.
مثلاً لاندې بیتونه وګورئ:

راغلم جهان ځای د اوسېدو نه و
کډه بار په زېړي مازیګر بېرته وړم
×××

خدایه ستا وړه دنیا مې نه ده خوښـه
ماته راکه پخپل لوی جهان کې برخه

د پسرلي او غني خان په پورتنيو شعرونو کې عاطفه او فکر دواړه غاړه غړی دي. البته په ښه شاعرۍ کې د پل والري خبره فکر بايد داسې حل شي، لکه غذايت چې د مېوې په خوند او رنګ کې حل شوی وي. ښه دا ده چې پر شعري څمکه راج د عاطفې وي او له دې راج سره فکر مرسته وکړي، يعنې عاطفه ملکه وي او فکر د دې نازولې ملکې مرستندوی ساتونکی وي، نو د شعر د ژوند او پايښت چانس ډېر دی (درمل، ۱۳۹۵: ۵۱).

که موږ د پښتو ژبې او ادبياتو د درې ګونو ادبي دورو (لرغونې، منځنۍ او معاصرې) دورې د شاعرانو شعرونو ته پام وکړو او د زړه په سترګو يې په غور ولولو يا واورو، نو په ډېرو شعرونو کې مو احساسات او عواطف په څپو دي او هر ډول عاطفي رنګ و اند په صراحت سره پکې موندلای شو چې په لوستلو او اورېدلو سره يې اغېزمن کېږو او دروني او ظاهري احساسات او عواطف مو په څپو راځي.

له کروړه رانيولې تر خوشاله، له خوشاله تر حمزه، پسرلي، ننګيال، کاروان، مفتون او همداسې زموږ د ډېرو نورو شاعرانو شاعري له بېلابېلو شعري کوايفو او عواطفو نه مالامال ده.

د وطن هر شاعر مو د وخت، حالاتو او سيمې رنګارنګ انساني، ملي او پښتني انځورونه په بشپړ عاطفي انداز کې په هنري څراکت او خلاقيت سره خپلو شعرونو کې انځور کړي دي. دا چې تر څېړنې لاندې موضوع مو ډېره ونه غځېږي، اوس د بېلګې په ډول د پښتو ژبې او ادب د ځينو نوموتو معاصرو شاعرانو د کلام عاطفي بېلګې له لنډې شننې سره د دغې څېړنيزې مقالې د کره کولو او حسن اختتام لپاره راوړو:

حمزه ډېر مسلمانان هم کـافران شته په دنيـا کې
زه اشنا د هغه کس يم چې روش يې د انسان وي
(غزنوي، ۱۳۸۸: ۱۷۶)

حمزه شينواري د پښتو ژبې د غزل بابا، په خپلو ډېرو غزلونو کې بېلابېل عاطفي انځورونه وړاندې کړې دي چې پورتنی بيت يې د بشرپالنې ښه عاطفي بېلګه ګڼلای شو.

پر موږ که قيامت وي، د دنيـا يې بـانـدې څـه؟
هوسۍ که مري که پايي، د صحرا يې باندې څه؟

×××

ستا لپاره سوي، ستا لپاره پکې سوځو مـونږ
سور دوزخ مو ربه شين جنت د هېوادونو کړه

(پسرلی، ۱۳۷۸: ۲۶)

د غزل سالار شاعر محمد صدیق پسرلي شعرونه پرېمانه عاطفي ښکلاوې او دردونه لري چې په لوستلو او اورېدلو سره یې انساني عواطف اغېزمن کېږي. لکه پورتني بیتونه یې چې د ټولنیزې عاطفې روښانه بېلګه ده.

اې ښکاري اشنا درته سلام کوم
پام کوه ماشې ته ګوتې مه وروړه
پرېږده چې دا سپینې مرغۍ والوځي
لاړې شي جوړې جوړې ګلونه شي
ښکلې شي، ښایسته شي امېلونه شي
واخلي په وزرو کې تنکي بچي
وموښي سینو کې ګلابي بچي
سپینې سرې مښوکې زرکني بچي
پام کوه ماشې ته ګوتې مه وروړه
(یون، ۱۳۸۷: ۲۷).

د اسحاق ننګیال ډېری شعرونه له عاطفي شېبو ډک دي. د هغه شعرونه لکه د عاطفې سمندر داسې دی. د هغه په زیاتره شعرونو کې د یو خواخوږي، د یو زړه سوانده (انسان) عاطفه په خپل اوج کې ځان راڅرګندوي چې ډېره مشهوره بېلګه یې همدغه د (ښکاري) شعر دی.

دي تاندې چینې وچې چېرته تللي چنارونه
شنه غره زموږ چینې لړلې کلي چنارونه
اوبو کې به یې ځنبلې وي د بورې هوسۍ اوښکې
هوسۍ غوندې له کلي تښتېدلي چنارونه
(کاروان، ۱۳۸۷: ۱۶۱)

د پیرمحمد کاروان ټوله شاعري د عاطفې په اوبو لمبېدلې ده، عاطفي شعرونه یې خورا ډېر دي. کاروان د عاطفې بېلابېل ډولونه پخپلو غزلو کې کارولي دي. په پورتنیو بیتونو کې یې ټولنیزه تراژیدي عاطفه په ځپو ده.

شفق لمبلي د شهید په وینو
که بهارونه سره غاړې وتل
تنکي ګلونه یې په مینځ کې وسول
سره سره اورونه سره غاړې وتل

(مفتون، ۱۳۹٦: ۱۱)

کله غرونه او درې ورپسې ګورم
کله دښتې او میرې ورپسې ګورم
کله لاړ شم د جهاد د جنګ ډګر ته
آ په وینو سرې مورچې ورپسې ګورم
انقلابه مجاهد جانان مې ورک دی
د کافرو جېلخانې ورپسې ګورم
چې خبر د شهادت یې راشي کله
بیا نو ګرځم ادیرې ورپسې ګورم

(مفتون، ۱۳۹٦: ۳۱)

شفق چې د شهید په وینو لامبي، ګواکې بهارونه یو بل په غېږ کې نیسي او سره یوځای کېږي، ښکلا ښکلا سره غاړه غړۍ کېږي. کله چې د بهار په شنه مرغه کې سره سره ګلونه راوټوکېږي، نو نه یوازې ښکلي او ښایسته برېښي، آن چې هېښوونکي وي، بلکل لکه د لیلې دښته. د اکرام الدین مفتون په پورتنیو شعرونو کې ټولنیزه او فردي عاطفه له ورایه ځرګندېږي.

**پایله**

په شعر کې عاطفه ځومره او څه ارزښت لري . په شعر کې عاطفې ته ځومره پام شوی دی. د نورو شعري ارکانو په پرتله عاطفه ځومره موهیمه ده . په پښتو شاعرۍ کې د عاطفې ارزښتونه او ډولونه ځومره پالل شوي او راوړل شوي دي د دې مقالې له څېړنې، لیکنې او بشپړېدو وروسته دې پایلې ته ورسېدو د څېړنې پوښتنوته په پام سره  د شعر د نورو توکو ترڅنګ عاطفه خپل ځانګړی ځای او ارزښت لري او د شعر د کره کتنې پر مهال ترې سترګې نه شي پټېدلای. د شفیعي کدکني په وینا که په شعر کې د عاطفې تله سپکه شوه، نو شعر مري. له شعر سره د عاطفې اړیکې د شعر تر بل هر عنصره ډېرې نږدې او ژورې دي. زموږ شاعرانوپخپلو شعرونوکې عاطفه ښه پاللې او روزلې ده.همدغه عاطفې ددوی کلام اغېزمن،په زړه پورې اوتلپاتې کړی دی. په شعر کې عاطفه خپل ځانګړی ځای او ارزښت لري. په یاده مقاله کې د دغه شعري رکن ځای، ارزښت اونقش د شعري بېلګو په تفسیرولو سره ښه روښانه او وسپړل شو.

**د سرچنو لړلیک**


ارمل هاشمي، سید اصغر. (۱۳۹۲.ل). شعرپوهنه. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۷.ل). پښتو نظم پوهنه. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
ازمون، لعل پاچا. (۱۴۰۲.ل). د تخیل سمندر (د شیدا اند و هنر). کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

ازمون، لعل پاچا. (۱۴۰۳.ل). ښکلايي حس (پر فنونو او پوهنو يې د اغېز څېړنه او شننه). خپرندوی ازمون اکاډمي.

باجوړی، بريالی. (۱۳۸۹.ل). د پښتو ادبياتو تاريخ. کابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.

بېلابېل ليکوالان. (۲۰۱۲.ز). پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس، دويم ټوک. د افغانستان علومو اکاډمي. ميهن خپرندويه ټولنه.

پسرلی. محمد صديق. (۱۳۷۸.ل). د نی کوڅه. ناهيد کتاب خپرولو مؤسسه.

تقي پور، نامداريان. (۱۳۹۰.ل). سفر در مه (تأملی در شعر شاملو). تهران: انتشارات سخن.

درمل، احسان الله. (۱۳۹۵.ل). شعرستان. کندهار: بېنوا فرهنگي ټولنه.ـ رفيق، محمد رفيق. (۱۳۹۰.ل). د ادبپوهنې بنسټونه. کابل: کابل پوهنتون پښتو څانگه.

روهي، محمد صديق. (۱۳۸۹.ل). شعر پېژندنه (د مقالو ټولگه). کابل: ميهن خپرندويه ټولنه.

زاهد، عبدالقيوم. (۱۳۸۵.ل). زاهد پښتو ـ پښتو سيند. دانش خپرندويه ټولنه.

غزنوي، خاطر. (۱۳۸۸.ل). حمزه پېژندنه. ژباړن: ذبيح الله احساس. سالنگ کتاب خپرونکی.

کاروان، پيرمحمد. (۱۳۸۸.ل). چنار خبرې کوي. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

لېوال، عبدالغفور. (۱۳۷٦.ل). هيله مجله، لومړی کال، دويمه گڼه.

مفتون، اکرام الدين. (۱۳۹٦.ل). مهاجرې اوښکې. مسلمان بنسټ.

يون، محمد اسمعيل. (۱۳۸۷.ل). سيندونه هم مري (د اسحاق ننگيال د شعرونو جوړښت). يون کلتوري يون.

يون، محمد اسمعيل. (۱۴۰۲.ل). د پښتو معاصر ادب په لمن کې (د ماسټری لومړی ټولگی). ننگرهار: مومند خپرندويه ټولنه.